EUROPEAN UNION
AGENCY FOR ASYLUM

ناروې

# زما شخصي معلومات ولې EURODAC ته لیږدول شوي دي؟

الف ډول

**د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي**



PASHTO

## دا بروشور زه ولې تر لاسه کوم؟

تاسې د نړیوال خوندیتوب لپاره درخواست کړی دی، کوم چې په دغه هېواد کې د پناه غوښتنې په نوم هم پېژندل کېږي.

په دغه بروشور کې د معلوماتو په اړه کوم چې د چارواکو له خوا به وساتل شي او دا چې د څومره وخت لپاره به وساتل شي، زیات معلومات شته.

## ولې باید زه خپل د ګوتو نښې او انځور ورکړم؟

د دې هېواد چارواکي به ستاسو د ګوتو نښې او انځور واخلي. دا معلومات او ستاسو د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره به یو ځای، د Eurodac ډېټابېز ته واستول شي.

Eurodac د مشخصو کټګوریو لرونکي خلک د هغوی د ګوتو د نښو او انځور په بې ساري مشخصاتو سره نښلوي، کوم چې د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد اتباع نه دي.

دا ډېټابېز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو له خوا کارول کېږي، چې کولای شي ستاسو معلومات پروسس او ترلاسه کړي. د اروپايي ټولنې+ هېوادونه د همدې بروشور په پای کې راغلي دي.

## د پناه غوښتنې او کډوالۍ د مديريت مقرره (ASYLUM AND MIGRATION MANAGEMENT REGULATION) څه ده؟

د اروپايي تولنې+ هېوادونو يوه ګډه قانوني هوکړه کړې چې د پناه غوښتنې او کډوالۍ د مديريت مقرره نوميږي. دا مقرره مرسته کوي چې وټاکي کوم هېواد بايد د نړيوال خونديتوب غوښتنه وڅېړي. دا قانون د اروپايي تولنې+ هېوادونو ته دا اجازه هم ورکوي چې که چېرې يو هېواد په يو وخت کې ډېرې غوښتنې ترلاسه کړي، نو له يو بل سره مرسته وکړي.



تاسې ته دا تضمين درکول کېږي چې د اروپايي ټولنې+ هېوادونو څخه به يو هېواد خامخا ستاسې د نړيوال خونديتوب غوښتنه وڅېړي، خو تاسې نشئ ټاکلی چې کوم هېواد به مسؤل وي. هغه هېواد چې ستاسې غوښتنه څېړي، د پناه غوښتنې او کډوالۍ د مديريت د مقررې د قوانينو له مخې ټاکل کيږي.

که تاسې له اجازې پرته د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته لاړ شئ او هلته مو بيا د ګوتو نښې واخيستل شي، نو ستاسې ټول معلومات چې په Eurodac کې ثبت شوي وي، هغه به د هغه هېواد چارواکو ته ښکاره شي.

**تاسې اوس په ناروې کې ياست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**

- د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطريش، بلجيم، بلغاريه، کروشيا، قبرس، چيک جمهوريت، ډنمارک، استونيا، فنلينډ، فرانسه، جرمني، يونان، هنګري، ايټاليا، لاټويا، ليتوانيا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ايرلينډ جمهوريت، رومانيا، سلواکيا، سلونيا، هسپانيه، سويډن او
- 4 نور هېوادونه: ايسلينډ، ليچتنستين، ناروې، سويټزرلنډ.

## په EURODAC کې کوم معلومات زېرمه کېږي؟



لاندي معلومات له پخوا نه په کې زېرمه دي:

- ستاسې د ګوتو نښې
- ستاسې د مخ انځور
- ټول هغه نومونه چې تاسې اوس یا پخوا کارولي دي
- ستاسې د زوکړې نېټه
- ستاسې د زوکړې ځای
- ستاسې ملیت یا ملیتونه
- ستاسې جنسیت
- ستاسې د هویت یا د سفر د اسنادو کاپي کوم چې تاسې کارولي دي، او که چېرته موجود وي نو د هغوی د اعتبار په اړه معلومات هم په کې شامل دي
- د هغه افسر کارن پېژند (User ID) چې ستا د ګوتو نښې او عکس یې اخیستی، او هغه نېټې چې ستاسو معلومات اخیستل شوي او لېږل شوي دي
- هغه هېواد کوم چې تاسو پکې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کړې ده
- د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنلیک نېټه.

لاندي معلومات به، که اړتیا وي، په Eurodac کې ثبت شي:

- هغه هېواد چې ستاسو د غوښتنلیک ارزونه کوي
- که تاسو ځای پر ځای شوی یاست، نو د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد چې تاسو په کې ځای پر ځای شوی یاست
- که ستاسو غوښتنلیک رد شوی وي او تاسو د اروپايي ټولنې+ هېوادونو په سیمه کې د پاتې کېدو حق ونه لرئ
- که ستاسو غوښتنلیک د سرحدي پروسې له مخې ارزول شوی وي او رد شوی وي، یا ستاسو غوښتنلیک بېرته اخیستل شوی ګڼل شوی وي
- د هغو ویزو په اړه معلومات چې تاسو ته د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد له خوا صادر شوي وي
- د هغو وختونو په اړه معلومات چې تاسو د اروپايي ټولنې+ هېوادونو له سیمې څخه وتلی یاست
- په دې اړه معلومات چې ایا تاسو خپل هېواد ته د داوطلبانه ستنېدو وړاندیز منلی دی که نه.

تاسې حق لرئ چې هغو ناسم معلوماتو ته لاسرسی ومومئ او اصلاح یې کړئ چې په Eurodac کې ثبت شوي وي، او که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي، تاسو کولای شئ د حذف غوښتنه یې هم وکړئ. تاسو کولای شې د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړیکه ونیسې. د معلوماتو د کنټرولر د اړیکې جزئیات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتیا لرئ»** په بروشور کې ومومئ.

## زما شخصي معلومات به په Eurodac کې تر کومې مودې پورې ثبت وي؟



ستاسې معلومات به د 10 کلونو لپاره زېرمه وي او له هغه وروسته به په اتومات ډول سره پاک شي.

که چېرې تاسې د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد کې د همدې دورې له انقضاء څخه وړاندې تابعیت تر لاسه کړئ، نو ستاسې معلومات به پاک شي. که ستاسو معلومات حذف شي، دا به په هغه هېواد کې چې تاسو تابعیت ترلاسه کړی، ستاسو موقف ته زیان ونه رسوي.

## ایا په EURODAC کې کوم نور معلومات زېرمه کېږي؟

د امنیتي ارزونې پایله ثبتېږي که چېرې چارواکي دا ومومي چې تاسو ښايي:

- وسله ولرئ
- تشدد کوونکی یاست
- په ترهګریزو جرمونو کې ښکېل پاتې شوی یاست
- داسې یو جدي جنایت مو کړی وي چې له امله یې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې ونیول شي.

په دا شان حالاتو کې به دا په پام کې ونیول شي چې کېدای شي تاسو داخلي امنیت ته ګواښ پېښ کړئ. دا به په Eurodac کې له پورته نورو د پلي کېدو وړ دلیل یا دلایلو سره زېرمه شي کوم چې پورته یې بیان راغلی.

که چېرې د اروپايي ټولنې+ هېوادونه نور تاسې د خپل داخلي امنیت لپاره کوم ګواښ و نه بولي، نو بیا به دا معلومات پاک شي.

تاسې حق لرئ چې هغو ناسم معلوماتو ته لاسرسی ومومئ او اصلاح یې کړئ چې په Eurodac کې ثبت شوي وي، او که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي، تاسو کولای شئ د حذف غوښتنه یې هم وکړئ. تاسو کولای شي د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړیکه ونیسې. د معلوماتو د کنټرولر د اړیکې جزئیات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتیا لرئ»** په بروشور کې ومومئ.

## زما يادداښتونه

## زما یادداښتونه

دا بروشور یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. نه د EUAA اداره او نه هم کوم شخص چې د EUAA په استازیتوب عمل کوي، په دې بروشور کې د ورکړل شویو معلوماتو د کارونې مسؤلیت پر غاړه نه لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025